


**مطلق اصغري** Absolute Minimum: په عمومي ډول د $(x_0, f(x_0))$ نقطه مطلقه اصغري بلل کېږي، که چېرې د $f$ د تعريف په ساحه کې د هر $x$ لپاره $f(x) \geq f(x_0)$ وي، نو په دې حالت کې $f(x_0)$ ته مطلقه اصغري وايي، د $x$ هغه قيمتونه چې د هغوی لپاره تابع يا اعظمي او يا اصغري قيمتونه اخلي د $x$ دغه قيمتونه د Extreme په نامه يادېږي.



$f'(x_0)$ او $f'(x_1)$ نشته



په $x_0$ کې مطلق min



$f'(x_0)$ نشته

**لومړی مثال**: د $f(x) = \dfrac{1}{2}x^2 + 3x - \dfrac{1}{2}$ د تابع مطلق اصغري پيداکړئ.

**حل**: د $f(x)$ د تابع مشتق نيسو او د مشتق د تابع حلونه په لاس راوړو:

$$f(x) = \frac{1}{2}x^2 + 3x - \frac{1}{2}$$

$$f'(x) = x + 3$$

$$f'(x) = 0$$


$$x + 3 = 0$$

$$x = -3$$

$$f(-3) = -5$$

$$\lim_{x\to\infty} f(x) = \lim_{x\to\infty}\left(\frac{1}{2}x^2 + 3x - \frac{1}{2}\right) = +\infty$$

$$= \frac{1}{2}\lim_{x\to\infty} x^2 + 3\lim_{x\to\infty} x - 1\lim_{x\to\infty} - \frac{1}{2} = +\infty$$




| $x$ | $-\infty$ | | $-4$ | | $-3$ | | $1$ | | $2$ | | $+\infty$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $f'(x)$ | | $-$ | | $-$ | $0$ | $+$ | | $+$ | | $+$ | |
| $f(x)$ | $+\infty$ | ↘ | $-\frac{9}{2}$ | ↘ | $-5$ *Min* | ↗ | $3$ | ↗ | $\frac{15}{2}$ | ↗ | $+\infty$ |

په پايله کې د $x = -3$ په ټکي کې چې د تابع قيمت $(-5)$ دی او تابع په $(-3, -5)$ ټکي کې مطلق اصغري لري.

**لومړی مثال**: $\int x\,dx$ پیدا کړئ.

**حل**: $\int x\ dx = \dfrac{x^{1+1}}{1+1} + C = \dfrac{x^2}{2} + C$

**دویم مثال**: $\int \dfrac{1}{\sqrt[7]{x^3}}\ dx$ حساب کړئ.

**حل**: $\int \dfrac{1}{\sqrt[7]{x^3}}\ dx = \int x^{-\frac{3}{7}}\ dx = \dfrac{x^{-\frac{3}{7}+1}}{-\frac{3}{7}+1} + C = \dfrac{x^{\frac{4}{7}}}{\frac{4}{7}} + C = \dfrac{7}{4}\sqrt[7]{x^4} + C$

**دریم مثال** : $\int x^{\frac{3}{2}}\ dx$ پیدا کړئ.

**حل**: $\int x^{\frac{3}{2}}\ dx = \dfrac{x^{\frac{3}{2}+1}}{\frac{3}{2}+1} + C = \dfrac{x^{\frac{5}{2}}}{\frac{5}{2}} + C = \dfrac{2}{5}x^{\frac{5}{2}} + C = \dfrac{2}{5}\sqrt{x^5} + C$

**پوښتنې**

لاندې انتیګرالونه محاسبه کړئ:

a) $\int \sqrt[5]{x^3}\ dx$

b) $\int \dfrac{1}{x^4}\ dx$

c) $\int \dfrac{1}{\sqrt{x}}\ dx$

d) $\int \dfrac{x^2\ dx}{\sqrt[4]{x^2}}$

e) $\int \sqrt[8]{x^4}\cdot x\ dx$

